**د سولې پروسه د جګړې بندول نه، بلکې د طالبانو د تجزيې او کمزورې کولو لپاره سياسي توطيه ده**

کله چې په ۲۰۰۱ کال کې څلورګونې ډلې د آلمان په بُن کې راټولې شوې، ترڅو د افغانستان راتلونکی سياسي برخليک وټاکي، دوه ستر سياسي اړخونه؛ اسلامي حزب او د طالبانو تحريک له لومړي بُن کنفرانس څخه د امريکا په وسيله ګوښې ته کړل شول. دغه مسئله په څرګنده په افغانستان کې د جګړې د بالفعل او بالقوه ظرفيت ساتلو په معنی وه، په داسې حال کې چې د امريکا د بريدونو په جريان کې او له هغو وروسته د طالبانو ځينې رهبران د سولې غوښتونکي وو؛ خو غوښتنه يې رد شوه. ځکه د اسلام او مسلمانانو ضد څپه چې هغه مهال امريکا له «تروريزم» سره د مبارزې په نامه جوړه کړې وه، په افغانستان کې يې د اشغال پر وړاندې د يوه مبارز برخليک يوازې مرګ يا د بګرام او ګوانتانامو زندان ګرځولي وو او بس. د طالبانو د رهبرانو ژوند دغه مهال ډېر سخت و او له هرې خوا تر سخت فشار لاندې وو.

نو پورتني موارد د دې لامل شول چې د (۲۰۰۵- ۲۰۰۷) کلونو تر منځ د طالبانو د بريدونو سخته څپه راورسېده. امريکا او د افغانستان دولت د طالبانو د بريدونو د کمولو لپاره د نظامي هڅو تر څنګ د سولې د ټينګښت او ملي پخلاينې کميسيون، د سيمه‌ييز امن جرګه رامنځته کول، د سولې د عالي شورا جوړول او نورې پروسې پيل کړې، ترڅو طالبان سوله‌ييز ژوند ته راوګرځوي؛ خو دغو هلو ځلو کوم ځای ونه نيو او په افغانستان کې د جګړې شدت کم نه شو او برعکس د امريکايانو پر وړاندې د جګړې روحيه لا پياوړې شوه.

په دا ډول سختو شرايطو کې د سولې د خبرو اترو مسئله توده شوه. طالبانو هم سولې ته تمايل درلود. پر دغه مهال د طالبانو لپاره د سياسي دفتر د پرانيستو موضوع مطرح شوه، ترڅو د طالبانو پېچلي نظامي حرکت په مشخص سياسي ادرس کې راټول کړي، چې بالاخره دغه دفتر په ۲۰۱۳ کې د امريکا په همکارۍ په قطر کې افتتاح شو.

تاريخي تجربو ښودلې ده چې د نظامي ډلو د بريا او قوت رمز د جګړې په مخ ته وړلو کې دی، نه په سياست کې. نو هرکله چې نظامي ډلې د خبرو اترو مېز ته راښکل شوې دي، خپلې ټولې نظامي لاسته راوړنې يې په سياسي ډګر کې له لاسه ورکړې دي او هغه ماتې چې په نظامي جبهه کې يې تن نه ورکاوه، د خبرو اترو پر مېز يې خوړلې ده.

لکه څنګه چې امريکا په تدريجي ډول د حکمتيار اسلامي حزب لومړی د مزدور دولت په وسيله د خبرو اترو مېز ته کېناوه او په ۱۸ کلنو ډيموکراتيکو ارزښتونو کې يې هضم کړ، بيا يې په ۲۰۱۸ کې زلمی خليلزاد د افغانستان د سولې په چارو کې د امريکا استازی معرفي کړ او اوس د امريکا او طالبانو تر منځ له اته پړاوه مستقيمو خبرو اترو وروسته په نهم پړاو کې دواړه لوري خوشبيني ښيي، چې وروستۍ هوکړې ته نږدې شوي دي.

د امريکايي سولې موخه په اصل کې د طالبانو د تجزيې، کمزورۍ او تسليمۍ لپاره سياسي توطيه ده، ترڅو له يوې خوا امريکا د خپل تاريخ خورا اوږده جګړه ختمه اعلان کړي او د امريکا حاکم حزب د ۲۰۲۰ په ټاکنو کې د لاسته راوړنې په توګه ګټه ترې واخلي او له بلې خوا هغه عامه افکار چې په امريکا او نړۍ کې د افغانستان د جګړې د ماتې په اړه جوړ شوي، بدل کړي. له دې سره هممهاله په اوږد مهال کې په سيمه کې د چين، روسيې، پاکستان او ايران پر وړاندې د خپل نفوذ د خپراوي لپاره افغانستان د ستراتيژيک ټکي په توګه وکاروي.

د دې تر څنګ د افغانستان په اړه د امریکا او غرب سیاسي لیدلوری اصلاً بدل شوی نه دی، د افغانستان پر ستراتیژیک موقعیت سربېره د هغه فوق العاده بکر معادن او د نشه‌یي توکو تولیدات هغه موارد دي چې د کافرو استعمارګرانو په لیدلوري کې یې د دغه هېواد جذابیت لا زیات کړی. نو امریکا د نظامي ځواکونو د بشپړو وتلو لپاره له تیاري سره هممهاله پر خپل استخباراتي حضور هم تاکید کوي.

هغه ټکی چې د غور او تأسف وړ دی، هغه دا چې مسلماني وسله والې ډلې په داسې وخت کې چې د اشغالګرو د هڅوکو د ماتولو غړ تر غوږو کېږي، له مبارزې لاس اخلي او د خبرو اترو داسې ډګر ته ورننوځي، چې هېڅ تجربه نه پکې لري. په دې برخه کې امریکا تل د سیمې د حکومتونو د استخباراتو له نفوذه ګټه اخیستې، لکه څنګه یې چې په ۲۰۰۱ کې د طالبانو حکومت د ماتې په قضیه کې د مشرف له حکومته ګټه واخیسته، اوس له طالبانو سره په سوله کې د عمران خان له حکومته اعظمي ګټه اخلي؛ چې په بدل کې یې پاکستان ته ځینې امتیازونه ورکړل شول لکه د ډیورنډ پر لانجمنه کرښه اغزن سیم نصبول، د پاکستان تر حکومت لاندې د قبایلي سیمو ادغام، د امریکا له خوا د بلوچستان ازادي غوښتونکې ډله تروریستي بلل؛ خو په مقابل کې هند د «ازاد» کشمیر خودمختاره سیمه تصرف کړه.

طالبان امریکا ته ضمانت ورکوي چې د دوی تر ولکه لاندې سیمې څخه به پر امریکا او متحدینو یې برید نه کېږي. خو په بدل کې یې له مسلمانانو سره پر بالفعل محاربو هېوادنو لکه روسیې او چین باور کړی او هغوی یې د سولې په پروسه کې د دواړو اړخونو د ضمانت کوونکو په توګه مطرح کړي دي. د طالبانو دغه ټولې مبدئي تېروتنې ناسم تقدیم دی، چې ناوړه پایلې به یې په دنیا او آخرت کې د جبران وړ نه وي؛ ځکه تر دغو شرایطو لاندې طالبان د امریکا، چین او روسیې پر وړاندې له جهاده لاس اخلي او د مجبوریت له مخې به د نورو مسلمانو نظامي ډلو پر وړاندې د جګړې صفونو ته ننوځي.

له دې سره هممهاله امریکا له طالبانو سره خپله هوکړه له بین الافغاني هوکړې څخه بېله کړې ده، چې دا به خپله د طالبانو او نورو افغان اړخونو تر منځ د لا زیاتې داخلي تفرقې لامل شي او همدغه اختلافونه امریکا ته فرصت ورکوي، ترڅو د طالبانو په تجزیه او کمزوري کولو سره ژوره ساه واخلي، هوکړه لیک فسخه او خپل حضور ته دوام ورکړي.

نو په افغانستان کې د اشغالګرو هر ډول موجودیت هغه سرطاني غدې ته ورته دی، چې له ټولو ریښو سره له بېخه ایستلو پرته بله هېڅ حل‌لاره نه لري. دا موخه هغه مهال تر لاسه کېږي چې د امت مخلص نظامي مبارزین د اشغالګرانو پر وړاندې خپل جهاد ته دوام ورکړي او سیاسي او فکري مبارزین په یوه اسلامي خاوره کې د طلب النصرې له لارې قدرت خپل کړي او راشده دولت تاسیس کړي، چې پوځ به یې په افغانستان کې د مخلصو مجاهدینو ملتیا وکړي او په پایله کې به د امت دغه نظامي قضیه یو طرفه کړي او د نورو اشغال شوو خاورو د ازادۍ لپاره به په ګډه اقدام وکړي.

**سیف الله مستنیر**

**د حزب التحریر - ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس**